# چا چې په پورته ټولو شیانو ګواهي ورکړه نو) الله جل جلاله به یې جنت ته داخل کړي که هر څومره عمل یې کړی وي

عبادة رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي: "څوک چې شاهدي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته، هغه یو دی او هېڅ شریک نلري، او دا چې محمد د هغه بنده او رسول دی او دا چې عیسی د الله بنده او د هغه رسول دی، او دا چې پر هغه یې د (کُن) په کلمې سره مریم علیها السلام ته د جبریل علیه السلام په واسطه زیری ورکړی، او دا چې د هغه له طرفه روح دی (چې جبریل علیه السلام د هغې په ګریوان کې پو کړی دی) ، او دا چې جنت حق دی او دوزخ حق دی، (چا چې په پورته ټولو شیانو ګواهي ورکړه نو) الله جل جلاله به یې جنت ته داخل کړي که هر څومره عمل یې کړی وي".

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې د توحید کلمه ووایي، په معنی یې پوه شي او په غوښتنه یې عمل وکړي. او پر دې ګواهي ورکړي چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی، او پر دې چې عیسی علیه السلام د الله جل جلاله بنده او رسول دی، او دا چې الله جل جلاله د "کُن" یعنې (شه) په کلمې سره پیدا کړی دی، او دا چې هغه له ارواحو څخه یو روح دی چې الله جل جلاله پیدا کړي دي، او دا چې د هغه مور ته یې له تور (تهمت) څخه براءت ورکړ چې یهودو تورنه کړې وه، او ایمان یې راوړ پر دې چې جنت حق دی، او اور حق دی، او د دواړو په شتون یې باور وکړ، او دا چې یو یې د الله جل جلاله نعمت او بل یې عذاب دی، او پر همدې عقیده مړ شو؛ نو ئګ یې جنت ته دی که څه هم په پیروۍ کې نیمګړتیا او ګناهونه ولري.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3417

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee